## متنفرقومکروهاتو بیان

اوله مسئله: د عذر څخه پرته په لمانځه کي چارزانو ناسته مکروه ده په مطالب المؤمنين کي له محيط څخه راغلي دي چي حضرت عمر رضي الله عنه خپل زوئ له دې ناستي څخه په لمانځه کي منع کړ هغه[۱] ورته خپل عذر بيان کړ چي په پښو کي يې څه تکليف درلودئ. [۲]
يو شمېر فقهاوو يې د کراهت وجه دا بيان کړي ده چي دا ناسته د متکبرينو ده ولي دا وجه ځکه مردوده ده چي نبي کريم ﷺ چارزانو ناست دئ. [۳]
نو ثابته سوه چي دا د متکبرينو ناسته نه ده البته د تکبر په نيت چارزانو ناسته ممنوعه ده، لکه څنګه چي په الکفايه کي راغلي دي. [۴]
ښه توجه داده چي چارزانو ناسته د اداب څخه خلاف ده له دې کبله د متعال پروردګار په حضور کي دا ډول ناسته مکروه بلل سوې ده چي د اداب طريقه پکښي ماتيږي.
په خزانة الروايات کي راغلي دي چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ په چارزانو ناستي ډوډئ خوړله په دې وخت کي وحي راکښته سوې چي د مريانو په شان خوراک کوه. [۵]
په احياء العلوم د امام غزالي کي راغلي دي چي ابراهيم بن ادهم وايي چي يوه ورځ چارزانو ناست وم د هاتف له خوا راباندې ږغ وسو چي دارنګه خو پادشاهان کښېني بيا له هغه وروسته زه چارزانو نه يم کښېنستلای.
دوهمه مسئله: په لمانځه کي د کميس[۶] لپاسه پرتوګ اغوستل يعني د کميس اطراف په پرتوګ کي ننويستل مکروه بلل سوی دي او په جامع المضمرات کي دا هم راغلي دي چي د سجدې پر وخت له وړاندي او يا له وروستو څخه د جامو وچتول هم مکروه دئ. [۷]

---

([۱]) القائل هنا هو ابنُ ابنِ عمر رضي الله عنهما.

([۲]) روى هذا الأثر عبدالرزاق في «مصنفه» (۲: ۱۹٤)، ولفظه: عن عبد الله بن عبد الله بن عمر رضي الله عنهم،قال: صلَّى ابنُ عمرَ فتربَّع، ففعلتُ ذلک، وأنا حديث السِّنِّ،فقال: ولِمَ تفعلُ ذلک، قال: قلت: فإنّک تفعلُه، قال :إنّها ليست من سُنَّة الصَّلاة، ولكن سُنَّة الصلاة أن تثني اليُسرى وتَنْصِبَ اليمنى،قال: وقال عبد الله: إنّي لا يحملني رجلاي .ا. هـ .

([۳]) انظر: «صحيح ابن خزيمة» (۲: ۸۹، ۲۳٦)، و «صحيح ابن حبان» (٦: ۲٥۷)، و «مستدرک الحاکم» (۱: ۳۷۹)، وغيرها .

([۴]) «الكفاية على الهداية» (۱: ۳٥۸) .

([۵]) لم أقف عليه .

او په جامع المضمرات کي دا هم راغلي دئ چي له خپل ځای څخه وړاندي دوعاء کول هم مکروه دي.البته د دوعا ځای د لمانځه وروستی برخه ده لکه چي وايي: اللهم اغفرلي الخ. خدايه ما وبخښې.زه وايم: تش کراهيت پکښې سته البته لمونځ نه فاسد يږي.

زه وايم دا د دوعا ځای چي د لمانځه يوازې وروستۍ برخه ګڼل سوې ده دا باطل ده ځکه چي په احاديثو کي يو شمير دوعاګاني د قيام او د قرائت څخه وړاندي او په رکوع او سجده کي قولاً او فعلاً منقول سوي دي هغه دوعاګاني چي وارد سوی دي هغه خو مکروه نه دئ.

دريمه مسئله: په لمانځه کي اوسيلي اړوميې ويستل[8] او له ګوتو څخه ټکان ايستل مکروه دي،لکه څنګه چي په درمختار کي راغلي دئ.[9]

څلورمه مسئله: يوې ښځي خپل وريښتان د بلي ښځي وريښتانو سره د لمانځه څخه لومړی غوټه کړل بيا يې په لمانځه پيل وکړ.يو شمېر فقهاوو يې لمونځ باطل کرځولی دئ صحيح روايت دادئ چي لمونځ يې جائز دئ ولي مکروه کيږي،لکه څنګه چي د امام محمد بن الحسن الشيباني څخه نقل سوي دي او په دې فقيه ابو الليث سمرقندي[10] عمل کړی دئ،دارنګه په مطالب المؤمنين کتاب کي له کتاب النکاح د جامع الفتاوی څخه راغلي دي.

پنځمه مسئله: په لمانځه کي د سترګو پټول، تندی له خاورو پاکول او مخکي تر دې چي له لمانځه څخه سرى فارغ سي د خولو پاکول مکروه دي.

---

(6) القَمِيص: ثوب مخيط بكمين غير مفرج يُلْبَسُ تحت الثِّياب، ولا يكون إلا من قطن، أو كتان، وأمَّا من صوف فلا. انظر: « تاج العروس» (١٨: ١٢٨).

(7) انظر:« المحيط البرهاني» (٣١٩-٣٢٠).

(8) انظر:« الدر المختار» (١: ٦٤٥).

(9) « الدر المختار» (١: ٦٤٢).

(10) قال ابن نجيم في « البحرالرائق» (٨: ٢٣٣): وإذا وصلت شعرها بشعر غيرها،فهو مكروه، واختلفوا في جواز الصلاة منها في هذه، والمختار أنه يجوز .ا. هـ.

همدا راز په لمانځه کي چابکي کول،تر درو وارو کم د شپوږو وژل، د خوشبويې بويول مکروه دي يعني په خپل عمل او که په فرش ..... خوشبويې پرته وه او د ده پزې ته يې خوشبويي ورسېده نو خير دئ.
همدا راز بې له عذره په لمانځه کي د ماشوم را اخيستل او عذر عبارت دئ د درنده ځناور څخه بيره او يا له اوره او له اوبو څخه بيره که يې عذر درلودئ نو بيا کراهيت نسته.
همداراز پر دېوال او يا ستني پوري بې له عذره تکيه کول د فرضي لمانځه څخه په غير مکروه بلل سوي دي دغه مسئله علامه تاج الدين الريحاني د خلاصي په شرحه(۱۱) کي چي بنيات اساس الدين في کشف عويصات الکتاب المخلص المتين وعمدة اليقين في بيان اقسام المشروعات مع افادة احکام الصلوٰة واحسن التبيين نوميږي ذکر کړي ده.
شپږمه مسئله: مخامخ بل انسان ته درېدل او لمونځ کول مکروه بلل سوی دي،دغه مسئله د تنوير الابصار(۱۲) مصنف نقل کړې ده او په خزانة الروايات کي يې له کيداني څخه نقل کړی دئ چي راسته او چپې خوا ته ميلان کول مکروه دئ او همدا راز له يو پښې څخه بلې پښې ته زور کول د استراحت په غرض مکروه دي انتهي. (۱۳)
اوومه مسئله: په لمانځه کي لوبي کول او هر هغه عمل کول چي د لمانځه د حالت سره مناسب نه وي تر سره کول چي خشوع او حضوع پکښې فوت سي مکروه دي،لکه څنګه چي په مختصر الوقايه کي راغلي دي. (۱۴)
اتمه مسئله: په لمانځه کي راسته او يا چپې خوا ته کتل په دې شکل چي خپل څټ راسته او يا چپې خوا ته مايل کړي مکروه دي او د سترګو په کونجونو خير دئ او که يې سينه ورسره واړول نو بيا يې لمونځ يې ماتيږي.
انهمه مسئله: پورته د آسمان و طرف ته په کتلو لمونځ مکروه کيږي لکه څنګه چي په تبين الحقايق کي راغلي دي. (۱۵)

---

(۱۱) «شرح خلاصة الكيداني» (ص ۳۵– ۳۷).

(۱۲) «تنوير الأبصار» (۱: ۴۳۳).

(۱۳) من «مختصر الكيداني» (ق ۳/ أ).

(۱۴) «النقاية» (ص ۲۶).

(۱۵) «تبيين الحقائق» (۱: ۱۶۳).

لسمه مسئله: په وروسته صف کي دربدل چي لومړی صف کي څه فرجه (خالی ځای) پاته وي مکروه دئ که وړاندي صف کي فرجه نه وه او سړی ځان ته په وروسته صف کي ودرېدئ نو بیا مکروه نه دئ دا مسئله په تحفة الفقهاء کي راغلې ده. [16]
او په خزانة الروایات کي راغلي دي چي دا کار مکروه دئ که چیري بل څوک ځان ته له لومړی صف څخه کش کړې دا ورته بهتر دي.
او په المحیط[17] کي راغلي دي چي دی به تر رکوع پوري انتظار کوي که کوم لمونځ کوونکی راغي ښه او که نه نو بیا دي د لومړي صف څخه یو سړی ځان ته کش کړي.
زه وایم[18]: د بل کشکولو څخه زموږ په زمانه کي چي جهل زیات دئ ځان ته دربدل اولی دي، لکه څنګه چي په جامع الرموز کي راغلي دي. [19]
یوولسمه مسئله: په داسي حالت کي لمونځ کول مکروه دي چي ورېښتان یې ټول د سر له پاسه پر کوپړۍ جمع کړي وي او بیا یې په یوه ټوټه یا په یوه تار او یا په کونډه باندي مظبوط تړلي وي تر څو لیمسي ځني جوړ سي.
ځینو د معقوص الشعر ترجمه داسي کړې ده چي خپلي کوڅۍ د سر له پاسه وتړې، لکه څنګه چي په خزانة الروایات کي راغلي دي.
دوولسمه مسئله: دکالو سدل په لمانځه کي مکروه دئ د سدل تعریف په المغرب[20] کي داسي راغلی دئ چي جامه له دې پرته چي اطراف یې را ټول کړل سي زوړنده پرېښودل سي.
او یوشمېر د لغت امامانو بیا د سدل تعریف داسي کړی دئ چي جامه پر سر واچول سي او اطراف یې پر اوږو خوروور پرېښودل سي دا په لویو څادرونو او دسمالونو کي جوړېږي.
او په چینو کي بیا سدل دې ته وایي چي چپنه په اوږو را واچوي او دواړه لستونړي زوړلند پرېږدې او لاسونه پکښې ننه نه باسي لکه څنګه چي په شرح وقایه کي راغلي دي. [21]

---

([16]) «تحفة الفقهاء» (١: ١٤٤-١٤٥).

([17]) «المحيط البرهاني» (ص ٣٣٣) في (كتاب الصلاة).

([18]) القائل هو القهستاني صاحب «جامع الرموز».

([19]) «جامع الرموز في شرح النقاية» (١: ١٢١).

([20]) انتهى من «المغرب» (ص ٢٢١).

([21]) «شرح الوقاية» (ص ٤٦).

دیارلسمه مسئله: په لمانځه کي استوماني ویستل مکروه دئ ځکه دا د تکاسل او ناراستۍ نخښه ده او اوسیلي ویستل هم د ناراستي په وجه مکروه بلل سوې ده او که اوسیلي پرې غالبه سوه نو خوله به ټینګه پټوي او یا به د توان په اندازه لاس یا لستوڼی پر نیسي، لکه څنګه چي په تبیین الحقایق کي راغلي دي. [۲۲]

څوارلسمه مسئله: زوړلند کړل سوی توري ته مخامخ لمونځ کول مکروه نه دئ. ،

او یو شمېر فقهاوو دا کار مکروه بللی دئ او ددې خبري نسبت یې حضرت ابن عمر رضي الله عنه ته کړی دئ همدا راز قرآن کریم ته مخامخ لمونځ کول هم مکروه نه دي.

او یو شمېر فقهاوو لکه حضرت ابراهیم نخعي رحمة الله عليه دا کار مکروه بللی دئ ولي زموږ په نزد مکروه نه دئ، لکه څنګه چي په الکفایة کي راغلي دي. [۲۳]

پنځلسمه مسئله: د قبلې څخه د ګوتو سرونه په سجده او نورو حالاتو کي راګوځول مکروه دي او د مچانو شړل هم مکروه بلل سوي دي مګر که کمه اندازه په لستوڼی وشړي نو بیا باک نسته.

حضرت خلف بن ایوب[۲۴] به له خپل مخ څخه هم غوماشي نه شړلې ددې د وجي پوښتنه ځني وسوه نو هغه وفرمایل چي زه له خپل ځان څخه د لمانځه څخه بهر ځکه غوماشي او مچان نه شړم چي دا مي عادت نه سي مه بادا چي په لمانځه کي هم را څخه دا کار ونه سي، لکه څنګه چي په خزانة الروایات کي راغلي دي.

شپاړلسمه مسئله: د خولي او د پزې پټول د ضرورت څخه پرته په لمانځه کي مکروه دئ.

او اعتجار په لمانځه کي فقهاؤ کرامو مکروه بللی دئ او اعتجار عبارت د هغه دول پټکي تړلو څخه دئ چي نور لنګوټه په سر تاوو کړي یوازې یو ول یې تر زني لاندي او پر مخ وپېچي او اخري سر یې بیا د نورو ولونو سره یو ځای کړي، لکه څنګه چي په بنایه کي راغلي دي. [۲۵]

---

(۲۲) « تبيين الحقائق» (۱: ۱٦٤) .

(۲۳) « الكفاية على الهداية» (۱: ۳٦۱) .

(۲۴) لعله: خلف بن أيوب العامري البلخي، أبو سعيد، كان من أصحاب زفر، وقد تفقه على أبي يوسف، وكان من أصحاب محمّد، وصحب إبراهيم بن أدهم مدَّة وأخذ عنه الزهد، وعن الصيمري: لو جمع علم خلف لكان في زنة علم علي الرازي إلا أن خلفاً أظهر علمه بصلاحه وزهده، (ت ۲۰۵ هـ) انظر: « الجواهر» (۲: ۱۷۰-۱۷۲). « العبر» (۱: ۳٦۷). « الفوائد» (ص ۱۲۲ – ۱۲۳) .

(۲۵) « البناية في شرح الهداية» (۲: ٤٥٦) .

اوو لسمه مسئله : د بر واري راڅخه پوښتنه سوې ده چي ايا د لنګوټې څخه پرته لمونځ مکروه کيږي لکه چي د عوامو خلکو تر منځ مشهوره ده ؟

ما ورپسې د فقهاوو کتابونه کتلي دي ددې عبارت څخه پرته چي وايې، لمونځ په درو کالو کي مستحب دئ چي پرتوګ، کميس او لنګوټه ده بل مي هيڅ نه دئ پيدا کړی نو دا پر دې دلالت نه کوي چي د لنګوټې څخه پرته لمونځ صحيح کيږي.

لکه زمونږ د زمانې يو شمېر علماوو ليکلي دي او د دوئ ليکنه پر دې بنا ده چي دوئ دا ګمان کړی دئ چي د مستحب پرېښوول کراهت ايجابوي او حال دا چي د بحرالرائق مصنف او د نورو فقهاوو په نزد د مستحب پرېښوول تر څو چي يو دليل پر نه وي د کراهيت مستلزم نه دئ[26] ددې قاعدې په فرع کي دا مسئله وړاندي کوي[27] چي د لوی اختر په ورځ د لمانځه څخه وړاندي خوراک مکروه نه دئ حال دا چي مستحبه طريقه داده چي تر لمانځه وروسته د اختر د قربانۍ د څاروي په غوښه امساک مات کړي. [28]

او کله نا کله په کراهيت د نبي کريم ﷺ د لمونځونو مواظبت د لنګوټې سره ښودل کيږي.

ځکه په احاديثو کي دا زيات راغلي دي چي نبي کريم ﷺ به همېشه لنګوټه پر سر کوله او لمونځونه خو يې خامخا د لنګوټې سره کړي دي.

هو په کور کي به يې کله نا کله له سر څخه کښته کول او خپل مخي ته يې ايښول پر لنګوټې مواظبت د سنتيت دليل دئ.

او د سنتو خلاف کراهت فائده کوي په دې کي دا اعتراض واردېږي چي هغه نبوي مواظبت سنتيت فائده کوي چي په عباداتو کي وي.

او که چيري په عاداتو کي مواظبت کړی وو بيا سنتيت نه افاده کوي لکه څنګه چي په شرح وقايه کي او نورو کتابونو کي راغلي دي.

---

([26]) انتهى من «البحرالرائق» (۲: ۱۷۶) .

([27]) أي ابن نجيم صاحب «البحر» .

([28]) انتهى من «البحر الرائق» (۲: ۱۷۶) .

او د نبي کریم ﷺ موظبت د دوهمي قبیلې څخه دئ نه د لومړۍ قبیلې[۲۹] نو پرېښوول يې مکروه نه دي.
هو اقتداء په نبي کریم ﷺ پورې په ټولو کارونو کي کول اولي او بهتر دئ.
زما محترم او عالم بزرګوار پلار په یو شمېر خپلو لیکنو کي داسي لیکلي دئ چي بې له لنګوټې لمونځ په هغو ښارونو کي مکروه کېږي چي د خلکو يې دا عادت وي چي د مشرانو حضور ته د لنګوټو څخه پرته نه ورځي او له کورونو څخه بهر ته د لنګوټو پرته نه ووزئ.
اما په هغو وطنونو کي چي دا ډول عادت نه وي بیا بې له لنګوټې څخه لمونځ نه مکروه کېږئ.
او دا هم غلطه مشهوره ده چي د کوم امام لنګوټه نه وي او مقتدیان ټول لنګوټي والا وي نو د مقتدیانو لمونځونه مکروه کېږي پر دې هیڅ دلیل په شرع شریف کي نسته .

(۲۹) زه دا وایم چي پیغمبر ﷺ دنیا ته د عباداتو، معلاملاتو او تشریعیانو،د تعلیم لپاره استول سوی دي نه د عاداتو د ښوولو لپاره په دې هکله زما یو رساله د لنګوټې شرعي حیثیت د تفصیل لپاره وګوري. ژباړن.

## هغه کالي چي لمونځ پکښي مکروه کيږي او په دې پوري د اړوندو مسائلو بيان

اوله مسئله: د يو مجوسي په کالو کي لمونځ تر هغه باک نه لري تر څو چي يې پر مرداری يقين نه وي مګر په لنګ او پرتوګ کي يې لمونځ مکروه دئ تر څو چي پرېمنځل سي دا د شيخينو مذهب دي.

د امام محمد بن الحسن رحمه‌الله عليه په نزد مکروه نه دئ،لکه څنګه چي په خزانة الروايات کي له مفيد المستفيد څخه نقل سوي دي. (۳۰)

د يهوديانو په کالو کي لمونځ مکروه دي،لکه څنګه چي په فتاوى السراجيه کي راغلي دي. (۳۱)

دوهمه مسئله: زموږ يو شمېر فقهاوو ويلي دي چي د فاسقانو په کالو کي لمونځ مکروه کيږي او د صحيح روايت له مخي لمونځ يې نه مکروه کيږي ځکه چي د ذميانو په کالو کي لمونځ نه مکروه کيږي مګر پرتوګ څخه ځان ژغورل په کار دي،دا رنګه په مطالب المؤمنين کي له تحنيس کتاب څخه نقل سوی دي.

دريېمه مسئله: د کميس څخه پرته يوازې په پرتوګ کي لمونځ مکروه دئ مګر که کوم ضرورت وو بيا خير دئ او همدا راز په زړو جامو کي لمونځ مکروه کيږي،لکه څنګه چي په جامع المضمرات کي راغلي دي.

څلورمه مسئله: په لڅ سر لمونځ مکروه دئ مګر که د عاجزۍ په خاطر وو بيا خير دئ،لکه څنګه چي په شرح وقايه کي راغلي دي. (۳۲)

پنځمه مسئله: که چيري له سر څخه خولۍ ولوېږي که په يوه لاس پر سر کول ورته ممکن وي نو په کار ده چي په لڅ سر لمونځ ونه کړي،لکه څنګه چي په خزانة الروايات کي راغلي دي.

شپږمه مسئله: په هغو کالو کي لمونځ کول چي تصويرونه پر وي مکروه نه دئ مګر که

---

(۳۰) « مفيد المستفيد شرح ملتقى الأبحر». انظر: « الكشف» (۲: ۱۷۷۸) .

(۳۱) « السراجية» (۱: ٦٨) .

(۳۲) « شرح الوقاية» (ص ٤٦) .

چيرې سجده پر وکړي بيا يې لمونځ مکروه کيږي،لکه څنګه چي په تنوير الابصار کي راغلي دي. [۳۳]

ولي په مبسوط[۳۴] کي مطلق دا خبره ده چي پر هغه فرش لمونځ مکروه دئ چي پر هغه تصاوير وي.او علامه بدرالدين عيني فرمايي، چي تاج الشريعة ويلي دي چي صحيح خبره تفصيل[۳۵] دئ لکه وړاندي مو چي ذکر کړي دي. [۳۶]

اوومه مسئله: که چا د وربښمو په کالو کي او يا په غصب سوو کالو کي لمونځ وکړ نو لمونځ يې د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ څخه په يو روايت کي نه صحيح کيږي.

او په بل روايت کي پر حرمت قول کړی دئ[۳۷] زموږ په نزد صحيح کيږي ولي مکروه دئ،لکه څنګه چي په مطالب المؤمنين کي له تتمة المنظومة څخه نقل سوی دئ.

اتمه مسئله: په هغو جامو کي لمونځ باک نه لري چي مجوسي جوړي کړي وي او يا يې اوبدلي وي،امام حسن بن زياد رحمۃ اللہ علیہ پرې څه باک نه ګڼي او پر هغو کالي کي د لمانځه څه باک نسته چي پربمنځل سوی نه وي، دارنګه په خزانة الروايات کي راغلي دئ .

نهمه مسئله: په لمانځه کي د جامو سدل مکروه دئ او سدل له دې څخه عبارت دئ چي د جامي اطراف زوړند پرېښودل سي.

د سدل تعريف د شرح وقايې [۳۸] د قول مطابق دادئ چي پر سر يا پر اوږو يې واچوي او څنډې يې زوړندي کړي دا تعريف په طيلسان او لويو څادرنو کي صادقيږي.

او که چيري چپن او بالا پوښ وي نو په هغو کي سدل له دې څخه عبارت دئ چي پر اوږو يې واچوي او لستوڼي پکښي ورنکړي.

---

[۳۳] « تنوير الأبصار» (۱: ۲۳۸) .

[۳۴] « مبسوط السرخسي» (۱: ۲۱۱) .

[۳۵] أي الأصح التفصيل المذكور في « تنوير الأبصار» لا الإطلاق المذكور في « المسبوط» .

[۳۶] انتهى من « البناية» (۲: ٤٦۸) .

[۳۷] انظر: « شرح العمدة» (٤: ۲۷۸). و « عمدة الفقه» (۱: ۱۵). و « الإنصاف» (۱: ٤۵۹). و « الروض المربع» (۱: ۱٤۳). و « كشاف القناع» (۱: ۳۸۳) .و « المغنى» (۲: ٤٦) .

[۳۸] « شرح الوقاية» (ص ٤٦) .

او د هدايې د تعريف له مخې بيا سدل دې ته وايي چې کالي پر سر او يا پر اوږو واچوي او بيا څنډې زوړندې پرېښودل سي. [۳۹]

علامه ابن الهمام په فتح القدير کي فرمايي، دا سدل پر هغه صادقيږي چې دسمال يې پر اوږو زوړند اچولی وي لکه چې دا د ډېرو خلکو عادت دئ نو هغوئ ته د لمانځه په وخت کي ټولول اويا کښته کول په کار دئ انتهي. [۴۰]

لسمه مسئله: اعتجار په لمانځه کي مکروه دئ اعتجار ته په پښتو کي (تربوزک) ويل کيږي.

او کتابونو د دې ترجمه داسي کړې ده چې لنګوټه په سر وتړي او آخري ول يې تر زني لاندي تاوو کړي او يا پر سر او مخ باندي لنګوټه تاوو کړي،لکه څنګه چې په بنايه شرح هدايه کي راغلي دي. [۴۱]

بهتر داده چې پر هغه دسمال لمونځ ونکړي چې د اوداسه د اندامونو د وچولو لپاره يې ساتلی وي،ځکه چې د اوداسه اوبه محترمي دئ،لکه څنګه چې په الاشباه والنظاير کي راغلي دي. [۴۲]

---

([۳۹]) انتهى من «الهداية» (۱: ٦٤).

([۴۰]) من «فتح القدير» (۱: ۳٥۹).

([۴۱]) «البناية شرح الهداية» (۲: ٤٥٦).

([۴۲]) «الأشباه والنظائر» (ص ١٦٩) في (كتاب الصلاة).

## د هغو ځايونو يادونه چې لمونځ کول ورباندي مکروه دي او په هغو پورې د اړوند مسائلو بيان

اوله مسئله: په لمانځه کي د لمونځ کوونکي مخامخ بل سړی ته درېدل لمونځ مکروه کوي او د بل لمونځ کوونکي مخامخ درېدل هم مکروه دئ.
او د هغه سړی شا ته لمونځ کول چې ناست وي او خبرې کوي خير دئ،لکه څنګه چې په بحرالرائق کي راغلي دي. [۴۳]
دوهمه مسئله: امام ځان نته پر لوړ ځای او مقتديان ته په ټيټ ځای کي درېدل مکروه دئ،لکه څنګه چې په هدايه کي راغلي دي. [۴۴]
او که يو شمېر مقتديان ورسره په لوړه وه بيا کراهيت نسته،لکه څنګه چې په فتح القدير کي راغلي دي. [۴۵]
ولي په کتاب[۴۶] کي د لوړ ځای اندازه نه ده معلومه امام طحاوي رحمۃاللہعلیه [۴۷] د لوړ والي اندازه د يو سړی د قامت په اندازه ښولې ده.
او دا له امام ابي يوسف رحمۃاللہعلیه څخه روايت سوی دئ او يو شمېر فقهاوو ويلي دي چې دومره لوړ والي چې فرق پرې معلومېږي، د کراهيت لپاره کفايت کوي.
او يو شمير نورو لوړ والی د يو ذراع په اندازه ښولی دئ لکه په ستره کي په دې روايت د اکثرو فقهاوو اعتماد دئ دا په هغو صورتونو کي چې عذر نه وي.
او که دازدحام عذر وو لکه په اخترونو او د جمعې په لمانځه کي بيا کراهيت نسته،لکه څنګه چې په عنايه کي راغلي دي. [۴۸]

---

(۴۳) « البحرالرائق» (۲: ۳۳) .

(۴۴) « الهداية» (۱: ٦٤) .

(۴۵) « فتح القدير على الهداية» (۱: ۳٦۰) .

(۴۶) المقصود بـ « كتاب» هو « مختصر القدوري»، فإنه إذا أطلق الكتاب في كتب الفقه الحنفيي يكون المواد غالباً هو، كما أنه إذا أطلق الكتاب في كتب الأصول يكون المقصود القرآن الكريم، وكذا إذا أطلق الكتاب في كتب النحو يكون المراد كتاب سيبويه . والله أعلم .

(۴۷) في « مختصره» (ص ۳۳) .

(۴۸) « العناية على الهداية» (۱: ۳٦۰-۳٦۱) .

يو شمېر فقهاوو د لوړوالي اندازه د يو آدم قد څخه واخله تر يو ذراع پورې ښولې ده،دا ظاهر الروايت دئ په بدائع کې هم دا روايت غوره بلل سوی دئ.[۴۹]ځکه چې نبي كريم ﷺ څخه منع مطلقاً راغلې ده هغه فرمايي، امام دې ځانته پر لوړ ځای نه درېږي چې قوم ځني وروسته پر ټيټ ځای ولاړ وي الخ. [۵۰]

طحاوي[۵۱] د لوړ والي اندازه د انسان قامت ښولی دئ د قاضي خان مصنف د جامع الصغير له شرحې څخه رانقل کړي دي چې لوړ والي د يو ذراع په اندازه معتبره دئ او پر دې د فقهاوو اعتماد دئ په غاية البيان کې راغلي دي چې همدا قول صواب او صحيح دئ.

په فتح القدير[۵۲] کې دا روايت غوره بلل سوی دئ ولې کله چې په تصحيح کې اختلاف راسي نو عمل په ظاهر الروايت اولی دئ او سمه خبره خو مطلق لوړ والی دئ چې پر هغه هم صادقيږئ چې فرق پکښې معلوم سي،لکه څنګه چې په بحر الرايق کې راغلي دي. [۵۳]

او ددې په عکس چې امام ځانته ښکته ولاړ وي او قوم ټول پر لوړ ځای ولاړ وي نو ظاهر الروايت له مخې دا هم مکروه دئ،دارنګه په هدايه کې راغلي دي. [۵۴]

قاضي خان په خپله فتاوی کې وايي چې دا مکروه نه دئ او پر دې عام مشايخ وينا کوي[۵۵] او په درمختار کې فرمايي چې دا مکروه دئ انتهی. [۵۶]

درېيمه مسئله: د امام يوازې په محراب کې دننه درېدل مکروه دي، په دې کراهت کې د مشايخو اختلاف دئ يو شمېر وايي چې د اهل کتابو د مشابهت په وجه مکروه دئ ځکه اهل کتاب د امام لپاره يو خاص ځای تعين وي.

---

([۴۹]) «بدائع الصنائع» (۱: ۲۱۷).

([۵۰]) في «مستدرک الحاكم» (۱: ۳۲٦): عن همام قال صلى حذيفة بالناس بالمدائن، فتقدم فوق دكان، فأخذ أبو مسعود بمجامع ثوبه فمده، فرجع فلمّا قضى الصلاة، قال له أبو مسعود: ألم تعلم أن رسول الله ﷺ نهى أن يقوم الإمام فوق، ويبقى النَّاس خلفه، قال: فلم ترني أجبتك حين مددني. وانظر: «مصنف عبد الرزاق» (۲: ٤۱۲-٤۱۳).

([۵۱]) في «مختصره» (ص ۳۳).

([۵۲]) «فتح القدير» (۱: ۳٦۰).

([۵۳]) «البحر الرائق شرح كنز الدقائق» (۲: ۲۸).

([۵۴]) «الهداية» (۱: ٦٤).

([۵۵]) من «الفتاوى الخانية» (۱: ۹۳).

([۵۶]) من «الدر المختار» (۱: ٦٤٦).

او يو شمېر فقهاوو وايي چي كراهيت په دې وجه دئ چي د ده حال هغو مقتديانو ته نه معلومېږي چي د ده څخه راسته او چپې خو ته ولاړ وي،نو د اولي وجهي په اعتبار مطلقاً مكروه دئ او د دوهمي وجهي په اعتبار چي په هغه صورت كي چي اشتباه نه وي بيا كراهيت نسته،لكه څنګه چي په الكفاية كي راغلي دئ. [٥٧]

د فتح القدير او د نورو فقهاوو د قول مطابق دوهمه توجيه معتبره ده. [٥٨]

څلورمه مسئله: دهغه لمونځ كوونكي لمونځ مكروه دئ چي هغه د صف څخه وروسته يوازې ولاړ وي كه چيرې په صف كي فرجه او ځاى وي او كه په مخكښني صف كي ځاى نه وو د تحفة الفقهاء[٥٩] د قول مطابق بيا كراهيت نسته ولي د خزانة الروايات مصنف وايي چي مكروه دئ،همدا راز كه څوك كش كړي دا ورته ښه دئ او په المحيط[٦٠] كي راغلي دي چي صحيح داده چي تر دې به انتظار باسي چي امام ركوع ته ولاړ سي او كه تر هغه څوك پيدا نه سو نو بيا به يو سړى راكش كړي تر څو د خپل ځان سره ودروي.

زموږ په زمانه كي د دې څخه د ناپوهانو جهالت په وجه جنګ جوړېږي په كار نه دئ چي څوك ځان ته راكش كړي لكه څنګه چي په جامع الرموز كي راغلي دي. [٦١]

پنځمه مسئله: په هغه ځاى كي لمونځ كول مكروه دي چي په چت كي او يا د دې څخه وړاندي او يا پر برابرى يې كي تصويرونه وي او كه تصويرونه وروسته او يا د پښو څخه لاندي وو د عتاب په شرحه كي راغلي دي چي بيا كراهيت نسته البته په كور كي مطلق تصوريرونه زوړندول او ساتل د فقهاوو د وينا مطابق مكروه دئ،لكه څنګه چي په فتح القدير كي راغلي دي. [٦٢]

---

[٥٧] «الكفاية على الهداية» (١: ٣٦٠).

[٥٨] «فتح القدير على الهداية» (١: ٣٥٩-٣٦٠).

[٥٩] «تحفة الفقهاء» (١: ٣٥٩-٣٦٠).

[٦٠] «المحيط البرهاني» (ص ٣٣٣) في (كتاب الصلاة).

[٦١] «جامع الرموز في شرح النقاية» (١: ١٢١).

[٦٢] «فتح القدير» (١: ٣٦٢).